UNODC
United Nations Office on Drugs and Crime

From
the People of Japan

For information only – not an official document

**د نشه یی توکو او جرمونو په چارو کی د ملگرو ملتونو دفتر(UNODC) او جاپان دولت ترمنځ د ۹ میلیونو امریکایی دالرو په ارزش د بلاعوضه مرستو توافقنامه لاسلیک شوه.**

**کابل، د کال ۲۰۱۲ د جنوری ۲۴ نیټه-** د نشه یی توکو او جرمونو په چارو کی د ملگرو ملتونو دفتر**(UNODC)** او جاپان دولت ترمنځ د ۹ میلیونو امریکاړی دالرو په ارزش د بلاعوضه مرستو توافقنامه نن لاسلیک شوه ، چه موخه یی په بلخ، بامیان او هرات ولایتونو کی در جزایی عدالت سکتور د ظرفیت لوړتیا او په افغانستان کی د قانون د حاکمیت په هکله د افغانستان دولت د هڅو ملاتړ دی. د لاسلیک یاد شوی مراسم د عدلیی وزارت به کوربتوب ترسره شوو او د پروژی سند د آغلی اشیتا میتل په افغانستان کی د (UNODC ) مرکزی دفتر مرستیالی او ښاغلی سیجی اوکادا په افغانستان کی د جاپان د سفارت ژاژدافیر لخوا د عدلیی وزارت سرپرست قانونوال سید یوسف حلیم په حضور کی لاسلیک شو.

" عدلی بیاوړی سیستم کولاشی چی د نظم او قانون د ټینګښت سبب وګرځی او کولای شی چی د شخړو د حل او فصل په توګه عمل وکړی او همدارنګه کولاشی چی در شخړی په جریان کی او وروسته له شخړی څخه د جرمونو د مرتکبینو د معافیت څخه مخنیوی وکړی. د نشه یی توکو او جرمونو په چارو کی د ملگرو ملتونو دفتر د جاپان دولت د دوامداره مرستی څخه مننداوی ده او ددی نوی مشترک فعالیت څخه خوشحاله دی " دغه مطلب آغلی آشیتا میتل په افغانستان کی د (UNODC ) مرکزی دفتر مرستیالی بیان کر.

په بلخ، بامیان او هرات ولایتونو کی د جزائی عدالت د ظرفیت د لوړوالی چوکاټ سره سم، د دغه پروګرام له طریقه د عدلی اوقضائی مراکزو او ورسره د محاکمو لپاره تعمیرونه ، په بامیان ولایت کی د عدلیی وزارت لپاره یو دفتر به جوړشی . همدارنګه د قاضیانون او څارنوالانون لپاره حقوقی زده کړی ، خلکو ته په تیره بیا آسیب پذیره کسانو ته د خپلو حقوقو څخه د پوهاوی پروګرامونو، د محبوسینو لپاره د سواد آموزی او مسلکی زده کړی پروګرامونو ترسره کول دا ټول هغه فعالیتونه دی چی ددغه پروګرام له طریقه سرته رسیږی. یاد شوی فعالیتونه په افغانستان کی د سوله ایز، دموکراتیک او باثباته ملت جوړنی سره ډیره مرسته کوی.

د جاپان سفارت ژاژدافیر ښاغلی سیجی اوکادا داسی وویل " مونږ پدی پوهیږو چی بشری حقوق او امنیت د عدالت سره یوه نښلیدونکی رابطه لری. دا لمړنی قدم دی د جاپان دولت یی د قانون د ټینګښت سکتور سره د مرستی په موخه به افغانستان کی اخلی او پدی باور دی چی نوموړی پروژه په لمړی پراو کی د ولسوالیو په سطح باندی عدالت ته د لاس رسیی پروسه شه کړی او خلکو ته به د عدل او ثبات احساس ورکړی.

) ددی ویاړ لری چی د افغانستان او جاپان UNODCد نشه یی توکو او جرمونو په چارو کی د ملگرو ملتونو دفتر (
دولتونو سره په داسی پروسه کی په ګډه کار کوی چی د یو پیاوړی، عادل او هوسا افغانستان سبب ګرځی. نوموړی
) دفتر د افغانستان لپاره د جزائی عدالت فرعی پروګرام په چوکاټ کی ترسره کیږی چی UNODCفعالیتونه د (
مودی د 2012 څخه تر ۲۰۱۴ پوری ده.